سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰۱/۱۲

# حیران

ستا د سرزورۍ خبرې، چا سره شریکې کړم
ځان د مجبورۍ خبرې، چا سره شریکې کړم

ته خودغرور په  نیلۍ، سپوږمۍ ځمکه نه وینې
زه د ناچارۍ خبرې، چاسره شریکې کړم

تانه چې را پیښه زما کورته دا خوارې شوله
اوس د دې خوارۍ خبرې، چا سره شریکې کړم

زه په کار اخته وم تامې سترګې لاس را وتړل
دا د بېکارۍ خبرې، چاسره شریکې کړم

ورک دې له وطن کړم د پردې کلې ګدا دې کړم
سختې د زارۍ خبرې، چا سره شریکې کړم

دومره دې مجبورکړم چې مزدوردې د مزدورکړمه
دا د مزدورۍ خبرې، چا سره شریکې کړم

ربه زما ربه ګیله نکړم چې خپه نه شې
دا د ناداری خبرې، چا سره شریکې کړم

ګیرمې کلیوال دې په جوارۍ کې د سیاست او دین
زه د دې جوارۍ خبرې، چا سره شریکې کړم؟...

دسمبر/۲۰۲۱/۱۱

تورنتو - کاناډا


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com